مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# پخواني مشران

شهيدان ډېر لرو، غازيان نه لرو
د ننګيالو هغه کاروان نه لرو
د ژوند مقصد باندي ونه پوهېدو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

له دي بي رنګه زندګی ستړی شوم
نور د جنون له دي مستی ستړی شوم
د مينتوب وخت، ليونتوب وخوړو
دنګو شملو کي هغه شان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

داستان د درد او د ژړا يمه زه
ربه غمونو ته پيدا يمه زه
په هره خوا په هر ډګر مي وژني
چي پرې را غونډ شو اه انسان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

اوس د پښتون د کور کيسي شوي ورکي
د لوی وياړونو سلسلي شوي ورکي
د خپلواکی لېوال به هر لوري ول
اوس پښتنو کښي اتلان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

هر خوا د وينو سيلابونه ښکاري
د پردي جنګ تور تصويرونه ښکاري
د سولي ساز مي اوس غوږو کښي نشته
چي جګو غرونو کښي بازان نه لرو
موږ د پخوا په شان مشران نه لرو

مصطفی پسرلی

27/10/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ